یواځې د دفتري کاروني لپاره
د ترلاسه کېدو نېټه: ______________

# د مخکې تصویب شوې عذر لرونکې غیرحاضرۍ غوښتنه

د Twin Rivers د متحد ښوونځي ناحیه/5115 ډوډلي بلویډ مک کليلان، کاليفورنیا 95660
*(د والدینو/ سرپرست له لوري د کاروني اړوند فورمه - له غیر حاضرۍ مخکې یې د ښوونځي دفتر ته بېرته وسپارئ)*

منظمه حاضري د زده کوونکو په لاسته راوړنو کې مهم رول لوبوي. والدین/سرپرست باید هره ورځ، ټوله ورځ د حاضرۍ د ودې لپاره ټول معقول ګامونه پورته کړي. کله چې دا فورمه ډکه شي او د زده کوونکي د غیر حاضرۍ مخکې د ښوونځي دفتر ته ورکړل شي، دا په لیکلي غوښتنه بدلیږي ترڅو د زده کوونکي غیر حاضري د عذر په توګه په پام کې ونیول شي. دغه فورمه یواځې د لاندې ذکر شویو شخصي دلایلو لپاره کارول کیږي (د بېلګې په توګه، د شخصي ناروغی، د کورنی د نږدې غړي د جنازې د خدماتو لپاره نه کارول کیږي). ملاتړ کوونکي اسناد ضمیمه کړئ

**د زده کوونکي د غیرحاضرۍ لاملونه (یو یې په نښه کړئ)**

- ☐ **محکمې ته حاضرېدل**
- ☐ **د جنازې په خدماتو کې ګډون** (د زده کوونکي د نږدې کورنۍ له غړي پرته)
- ☐ **د زده کوونکي د دیني رخصتۍ یا مراسمو کتنه یا مشاهده**
- ☐ **دیني اعتکاف** (په هر سمستر کې د ښوونځي تر یوې ورځې پورې محدود دی)
- ☐ **په اخلاقي یا دیني لارښوونو یا فعالیتونو کې برخه اخېستل** (د غیر حاضرۍ په ورځ، اړونده زده کوونکی مکلفوي چې له رخصتۍ مخکې د ښوونځي د ورځې په اصغري موده کې حاضر وي او په میاشت کې د ښوونځي تر څلورو [4] ورځو پورې محدودیږي)
- ☐ **د کارګمارنې په یوه کنفرانس کې ګډون**
- ☐ **د غیر انتفاعي اداري له لوري وړاندیز شوي مقننه یا قضایي پروسې په اړه په ښوونیز کنفرانس کې ګډون**
- ☐ نور:______________________________

د کورنۍ سفرونه او رخصتۍ د قانون او تګلارې له مخې د عذر نه شتون لپاره دلایل نه شي کېدلی او دا د غیر عذر لرونکو غیرحاضریو په توګه په پام کې نیول کیږي پرته له هغې چې د خپلواکه څېړنیزې مطالعې لپاره یې ترتیبات نیول شوي وي. والدینو / سرپرستانو ته سپارښتنه کیږي چې د رسمي درسي ورځو له مهالوېش څخه بهر د کورنۍ سفرونه او رخصتۍ پلان کړي.

د زده کوونکي نوم: ______________ ټولګی: __________ ښوونځی: ______________

د غیرحاضرۍ ورځ / نېټه: ______________

**د والدینو / سرپرست له لوري تصویب: زه تصدیق کوم چې دغه غیرحاضري د هغه دلیل لپاره چې پورته په نښه شوی د قناعت وړ ده.**
زه پوهېږم چې زما زده کوونکی د هرې ورسپارل شوې دندې د بشپړولو مسوولیت لري، کوم چې ښایي د اړونده غیرحاضرۍ پر مهال ورکړل شي.

د والدینو/سرپرست لاسلیک: ______________________ نېټه: ______________

یادونه: که چېرې دغه غوښتنه ونه منل شي تاسو به یې په اړه ځواب ترلاسه کړئ. که تاسو د رسید یا منلو تایید ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د اړونده ښوونځي له دفتر سره اړیکه ونیسئ.

**یواځې د دفتري کاروني لپاره**

د ښوونځي د مدیر/ ځای ناستي تصویب. دغه د مخکې له مخکې ترتیب شوې غیرحاضرۍ غوښتنه زما له لوري کره کتل شوې او د لاندې دلیل له مخې وړ ده (یو یې په نښه کړئ): ☐ عذر لرونکې ☐ له عذر پرته (د لیک د تصویب نېټه ______________ د لیک د لېږلو نېټه ______________

د ښوونځي د مدیر/ ځای ناستي لاسلیک: ______________________ نېټه: ______________

حوالې: د ښوونې او روزنې قانون 48205; 46014 -46010.